د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

گڼه: 397

(23 – 29 میزان 1401 هـ ش)

# د افغان کډوالو ناوړه وضعیت؛ وړاندیزونه او حل لارې



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انگلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

د افغان کډوالو ناوړه وضعیت؛ وړاندیزونه او حل لارې ........................................................ 3

- سریزه........................................................................................................ 3
- تاریخي شالید.......................................................................................... 4
- په پاکستان کې مېشت افغان کډوال.................................................................. 5
- په ایران کې مېشت افغان کډوال ................................................................ 6
- د افغان کډوالو اوسني وضعیت ته کتنه ........................................................... 7
- وړاندیزونه: .......................................................................................... 10

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د افغان کډوالو ناوړه وضعیت؛ وړاندیزونه او حل لارې

## سریزه

کډوالي د افغانانو هغه دوامدار کړاو دی، چې افغانان له تېرو څو لسیزو راهیسې ترې کړېږي. د یوې سروې له مخې تقریباً ۷۰ سلنه افغانانو یو ځل په خپل ژوند کې کډوالي تجربه کړې ده.[1] همدا راز ځینې شمېرې ښیي، چې له هرو ۴ یا ۵ تنو یو یې په تېرو څو لسیزو کې په ځانګړې توګه پاکستان یا ایران ته یو ځل کډوال شوی دی.

افغان کډوال نه یوازې نورو هېوادونو ته د کډوالۍ پر مسیرونو خورا زیاتې ستونزې ګالي، بلکې له رسېدو وروسته هم له زیاتو ننګونو سره مخ وي. د بښنې نړیوال سازمان په دې وروستیو کې ویلي، چې ایران او ترکیه پر هغو افغان کډوالو ناقانونه ډزې کوي چې په قاچاقي توګه دغو هېوادونو ته د وراوښتو هڅه کوي. دغه سازمان وایي، چې په تېر یوه کال کې د ایران او ترکیې سرحدي پولیسو لږ تر لږه ۱۵ افغان کډوال وژلي چې ۱۱ یکې د ایران د سرحدي پولیسو له لوري وژل شوي دي. که څه هم د دغه سازمان راپور کاږي چې دا یوازې د دوی له لوري ثبت شوې شمېره ده، حال دا چې واقعي شمېرې لوړې دي. دغه سازمان د افغان مرسته کوونکو او ډاکترانو له قوله لیکلي، چې یوازې د ۲۰۲۱م کال له اګست د همدغه کال تر ډسمبر پورې یې لږ تر لږه د ۵۹ کډوالو مړینه او د ۳۱ نورو ټپي کېدل ثبت کړي دي.[2]

له بلې خوا بېلابېل هېوادونه په ځانګړې توګه ایران او ترکیه په دوامدار ډول افغان کډوال په زوره له خپلې خاورې وباسي او له دوی سره ناوړه چلند کوي. په ایران او پاکستان کې مېشت افغان کډوال هم وخت نا وخت له خورا زیاتو ستونزو او ځورونو سره مخ کېږي. د بېلګې په توګه څه موده وړاندې په ایران کې د افغان کډوالو د ځورونې په یوه څپه راپیل شوه، چې پکې زرګونه افغان کډوال شکنجه شول، یا ووژل شول او یا په اجباري توګه له دغه هېواده وایستل شول. ان تر دې چې په ټولنیزو رسنیو کې د افغان کډوالو د شکنجې خورا بوږنوونکې وېډیوګانې هم خپرې شوې.

[1] ICRC, Our World: Views from Afghanistan, Opinion Survey, 2009

[2] Amnesty International. "Iran/Turkey: Fleeing Afghans unlawfully returned after coming under fire at borders" Aug 31, 2022. Available at: https://www.amnesty.org/en/latest/news/2022/08/iran-turkey-fleeing-afghans-unlawfully-returned-after-coming-under-fire-at-borders/



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د تېر ۲۰۲۱م کال له اگست راهیسې د افغانانو د کډوالۍ یو بل پړاو بیا پیل شو چې لا هم دوام لري او اصلي عامل يې سیاسي او اقتصادي ستونزې دي. له تېر کال راهیسې د عادي کډوالۍ ترڅنگ يو لوی شمېر لوستي افغانان هم له هېواده وتلي او یا د وتلو په حال کې دي، چې په علمي اصطلاح د مغزونو تېښته بلل کېږي او گومان کېږي چې لامل يې د اسلامي امارت سرسخت سیاستونه دي. ډېری دغه وتونکي کسان د زده کړو په ډگر کې شته محدودیتونه، د بیان پر آزادۍ شته محدودیتونه او د مخالف فکر نه زغمل، په دولتي ادارو کې د طالبانو له خپلو غړو پرته نورو افغانانو ته په سخته د کار زمینه برابرېدل او داسې نور عوامل په گوته کوي.

دا لیکنه په بېلابېلو هېوادونو کې د افغان کډوالو شمېرو او د دوی وضعیت ته د کتنې ترڅنگ، د حل لارو په توگه د کډوالو د کوربه هېوادونو، د کډوالۍ نړیوالو ادارو او نورو اړوندو پالیسي جوړوونکو او مرستندویه لورو لپاره یو شمېر وړاندیزونه هم لري. په دغو وړاندیزونو کې هغه وړاندیزونه هم شامل دي، چې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري څه موده وړاندې په کابل کې «د افغانستان او گاونډیو هېوادونو ترمنځ د اړیکو راتلونکی» تر عنوان لاندې څېړنیز سمینار کې د کډوالو د وضعیت په برخه کې وړاندې شوي وو.

## تاریخي شالید

له افغانستانه د کډوالۍ لړۍ لرغونی تاریخ لري او د تاریخ په اوږدو کې د افغانانو کډوالي د دواړو اقتصادي او امنیتي عواملو له کبله وه؛ خو د ثور کمونیستي کودتا (د ۱۹۷۸ کال د اپریل ۲۷ مه) په لومړي ځل افغانان دې ته اړ کړل، چې په «ډله‌ییز ډول» له افغانستانه ووځي.

دغه کډوالي په څلورو پړاوونو کې وه. لومړی پړاو د ثور له کمونیستي کودتا څخه د شورویانو تر یرغل پورې دوام وکړ. دویم پړاو د شورویانو له یرغل سره پیل او د شورویانو پر وتلو پای ته ورسېد. دریم پړاو د افغانستان د کورنۍ جگړې د وخت پړاو دی او څلورم پړاو بیا پر افغان خاوره د امریکا او ناټو ځواکونو له بریدونو سره پیل شو.

په لومړي پړاو کې؛ د ملگرو ملتونو د کډوالو اداري د ارقامو له مخې، په ۱۹۷۸ کال کې په پاکستان کې د افغان کډوالو شمېره ۸۰۰۰۰ اتیا زره تنو ته ورسېدله او وروسته په ۱۹۷۹ کال کې، په پاکستان کې د افغان کډوالو شمېره ۴۰۰۰۰۰ څلور لکه تنو ته پورته شوه. همدا راز په ۱۹۷۹ کال کې د ایران مېشتو افغان کډوالو شمېره هم یو لکو تنو ته ورسېدله.[3]

[3] UNHCRA, A/AC.96/577-14 August 1980, 31st Session Executive Committee, Report on UNHCR Assistance Activities in 1979-1980 and Proposed Voluntary Funds Programmes and Budget for 1981, par. 602, p. 175.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په دويم پړاو کې؛ پر افغان خاوره د شورويانو د يرغل پر لومړي کال (۱۹۸۰)، په نړۍ کې د افغان کډوالو مجموعي شمېره تقريباً ۱٫۷۳ مليونه تنو ته ورسېده. په دويم کال دغه شمېره ۳٫۸۸ مليونو ته ورسېده او د شورويانو د وتلو پر کال (۱۹۸۹) په نړۍ کې د افغان کډوالو شمېره بيا ۵٫٦٦۴ ميليونه تنه وه.[4] په دغه پړاو کې افغانان تر ټولو زيات کډوالۍ ته اړ شول او په همدغه پړاو کې صنعتي نړۍ ته هم کډوالي پيل شوه او بېرته هېواد ته د کډوالو ستنېدل هم په همدغه پړاو کې د جنيوا تړون له مخې پيل شول.

په درېيم پړاو (د کورنۍ جګړې پړاو) کې؛ د شورويانو له وتلو وروسته د امريکايي او ناټو ځواکونو تر راتګ پورې تقريباً ۴ ميليونه کډوال بېرته هېواد ته راستانه شول؛ خو په عين حال کې د کورنۍ جګړې له پيل سره له افغانستانه د کډوالۍ بهير هم روان و. په دغه پړاو کې د لومړي پړاو په پرتله په ګاونډيو هېوادونو کې له افغان کډوالو څخه لږ هر کلی وشو.[5]

په څلورم پړاو کې؛ د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د ۱۱مې له پېښې وروسته، د امريکايي او ناټو ځواکونو د بريدونو له کبله، نژدې دري لکه افغانان بيا اړ شول، چې د افغانستان خاوره پرېږدي او په پاکستان کې پناه واخلي. خو کله چې د بُن له کنفرانس څخه وروسته په کابل کې د يوه لنډمهالي نظام بنسټ کېښودل شو، تر ۲۰۰۵ کال پورې تقريباً ۳٫۲ مليونه افغانان له پاکستان او ايران څخه بېرته خپل هېواد ته راوګرځېدل؛ خو کله چې له ۲۰۱۴ کال وروسته د هېواد د امنيتي وضعيت په اړه اندېښنې زياتې شوې له افغانستانه د کډوالۍ لړۍ په تېر بيا اروپايي هېوادونو ته بيا ګړندۍ شوه.[6]

## په پاکستان کې مېشت افغان کډوال

د افغان کډوالو په تړاو د (افغانستان- پاکستان-ملګرو ملتونو د کډوالۍ کمېسيون) تر منځ لومړی درې‌اړخيز تړون د ۲۰۰۳ کال په مارچ کې لاسيک شو او په ۲۰۰۵ کال په پاکستان کې په لومړي ځل د افغان کډوالو عمومي سرشمېرنه وشوه. د دغې سر شمېرنې له مخې ۳،۰۴۷ مېليونه افغانان په پاکستان کې کډوال وو. په عمومي ډول ۵۸ سلنه افغان کډوال له کمپونو بېرون او ۴۲ سلنه په کمپونو کې استوګن وو. په دغو کډوالو کې شاوخوا ۵۱ سلنه يې له ۱۹۸۵ کال مخکې پاکستان ته کډوال شوي وو.[7]

[4] UN Data: http://data.un.org/Data.aspx?d=UNHCR&f=indID%3aType-Ref

[5] Isabel Mehlmann, Migration in Afghanistan: A country profile 2011, Maastricht Graduate School of Governance, pp: 18, see it online:< http://digitalarchive.maastrichtuniversity.nl/fedora/get/guid:85a6d61b-cf54-4d07-881e-c6b1b92444c3/ASSET1>

[6] UNHCR, Afghan Refugee Statistics, February 2005

[7] UNHCR, "Pakistan, UNHCR say census counts 3 million Afghans" May 2005. Available at: https://www.unhcr.org/news/latest/2005/5/427643df4/pakistan-unhcr-say-census-counts-3-million-afghans.html



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ۲۰۰٦ کال له اکتوبر میاشتې څخه د ۲۰۰۷ کال تر فبرورۍ پورې تقریباً ۲۱٦۱۹۸۴ افغانان راجستر او د ( افغان تباري) کارډونه ورکړل شول.[8] یو شمېر دغه کډوال بیا هېواد ته راستانه شول او په ۲۰۱۵ کال کې په پاکستان کې تقریبا ۱۵۵۴۹۱۰ راجستر شوي افغان کډوال مېشت وو.[9] دا شمېره په ۲۰۱۹ کال کې لږ راکمه شوې وه او ۱,۴ میلیونه تنو ته رارسېدلې وه.[10] د ناراجستر افغان کډوالو په اړه دقیق ارقام نشته؛ خو په ۲۰۱۵ کال کې د پاکستان د سرحداتو د وزیر په اند د ناراجستر افغان کډوالو شمېره تقریبا ۱,۴ میلیونه وه.[11]

اوسمهال د کډوالو اړوند ادارو د شمېرو او اټکلونو له مخې، د ۲۰۲۲ کال په جنورۍ کې په دغه هېواد کې ټول ۳ میلیونه راجستر شوي او ناراجستر افغان کډوال مېشت وو. په دې ډله کې ۱,۴ میلیونه یې د راجستر کډوالو (PoR) کارت لرونکي دي، ۸۴۰ زره یې د افغان تباري کارتونه لري او تقریبا ۷۷۵ زره نور یې ناراجستر کډوال دي، چې تل د نیول کېدو او اجباري ایستل کېدو له ګواښ سره مخ دي.[12]

## په ایران کې مېشت افغان کډوال

له ۲۰۰۱ کال وروسته، له ایران څخه هم ډېر شمېر کډوال بېرته هېواد ته راستانه شول، خو د ۲۰۱۵ او ۲۰۱٦ کلونو د شمېرو له مخې، په ایران کې تقریبا ۹۵۱۱۴۲ تنه راجستر شوي او له ۱ څخه تر ۲ میلیونو پورې ناراجستره افغان کډوال استوګن وو.

د ملګرو ملتونو د کډوالو د ادارو شمېرې ښیي، چې اوسمهال (۲۰۲۲م کال کې) په ایران کې د راجستر شوو افغان کډوالو شمېره ۷۸۰ زره تنه ده، چې ورسره په څنګ کې ۲,۱ میلیونه ناراجستر شوي کډوال او ٦۰۰ زره د پاسپورتونو لرونکي کډوال هم په دغه هېواد کې مېشت دي.[13] که څه هم ایراني چارواکي ادعا کوي

[8] UNHCR, Registration of Afghans in Pakistan, Briefing Notes, 16 Feb 2007, see it online:<
http://www.unhcr.org/45d58a692.html>

[9] UNHCR, 2015 Year-End report in Pakistan. Available at:
https://reporting.unhcr.org/sites/default/files/pdfsummaries/GR2015-Pakistan-eng.pdf

[10] UNHCR, 2019 Year-End report in Pakistan. Available at:
https://reporting.unhcr.org/sites/default/files/pdfsummaries/GR2019-Pakistan-eng.pdf

[11] Express Tribune, Pakistan to register 1.4m Afghan refugees by July: minister, 11 March 2015, retrieved at 9 May 2015, see it online:< http://tribune.com.pk/story/851602/pakistan-to-register-1-4m-afghan-refugees-by-july-minister/

[12] European Union Agency for Asylum, "EUAA publishes report on Afghan refugees in Pakistan" May 2022. Available at:
https://euaa.europa.eu/news-events/euaa-publishes-report-afghan-refugees-pakistan

[13] UNHCR. "Afghan refugees in Iran" available at:
https://www.unhcr.org/ir/refugees-in-iran/

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

چې په دغه هېواد کې د افغان کډوالو شمېر ۴ میلیونه تنو ته رسېږي.[14] په دغه هېواد کې ډېری افغان کډوال د هزاره قوم شیعه مذهبه او دغه راز د تاجک قوم افغان وګړي مېشت دي؛ خو د ناراجستر کډوالو بیا دقیقې شمېرې نشته او ګومان کېږي چې د ټولو قومونو د کډوالو ونډه پکې زیاته ده، ځکه ناراجستر کډوال ډېری هغه افغانان دي، چې دغه هېواد ته د کارګرۍ لپاره تللي دي.

دا چې په ایران کې د ناراجستر افغان کډوالو شمېره ولې زیاته ده، اصلي لامل یې هم اقتصادي کډوالي ده؛ ځکه یو زیات شمېر افغانان د کار لپاره ایران ته ځي. بل لامل یې پر ایران د کډوالو تېره شوې ترانزیټي لاره ده. اروپا ته چې څومره افغانان ځي، د ډېری هغو لاره پر ایران ده. له همدې کبله د نورو عواملو ترڅنګ، اروپا ته د افغانانو تګ هم په ایران کې د افغان کډوالو شمېره زیاته کړې ده (د دوی یو شمېر هلته د ایرانې پولیسو لخوا یا نیول کېږي او یا هم تر یوې مودې پورې هلته ایسارېږي).

که څه هم ایران د ملګرو ملتونو د کډوالو کنوانسیون (۱۹۵۱) او د دغه کنوانسیون اړوند د ۱۹۶۷ کال پروتوکول، په ۱۹۷۶ کال کې لاسلیک کړی؛ خو پاکستان بیا تر اوسه پر دغه کنوانسیون او پروتوکول لاسلیک نه دی کړی. د دغو کنوانسیونونو له مخې، څوک نه شي کولای چې په جبري ډول کډوال له خپل هېواده بهر کړي. مګر له بده مرغه له ایرانه د افغان کډوالو جبري ایستلو لړۍ تل روانه وه او ډېری وختونه په ساړه ژمي کې هم هره ورځ زرګونه افغان کډوال له دغه هېواد ایستل شوي دي.

## د افغان کډوالو اوسنی وضعیت ته کتنه

که څه هم په تېرو دوو لسیزو کې میلیونونه افغان کډوال له ګاونډیو هېوادونو او نورې نړۍ څخه راستانه شوي دي، خو په ورته وخت کې د بېلابېلو عواملو له کبله له هېواده د کډوالو د وتلو بهیر هم په دوامدار ډول روان و. له دې کبله اوسنۍ شمېرې ښیي چې لږ تر لږه ۳ میلیونه افغان کډوال په ایران کې، ۳ میلیونه په پاکستان کې او شاوخوا یو میلیون په نوره نړۍ په ځانګړې توګه اروپایي هېوادونو کې مېشت دي.

له تېر اګست (۲۰۲۱م) راهیسې د افغانانو د کډوالۍ بهیر یو ځل بیا ګړندی شوی او سلګونه زره افغانان ګاونډیو هېوادونو او نورې نړۍ ته د کډوالۍ لاره غوره کوي. د شمېرو له مخې، د تېر ۲۰۲۱م کال د اګست له ۱۵مې نېټې وروسته یوازې په شپږو اونیو کې ۱۲۴۰۰۰ زره افغانان د

14 Aljazeera. "What does the future hold for Afghan refugees in Iran?" June 2022. Available at: https://www.aljazeera.com/news/2022/6/12/what-does-the-future-hold-for-afghan-refugees-in-iran



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

تخلیې په عملیاتو کې له هېواده وایستل شول او له هغه وروسته هم لسګونه زره افغانان په تدریجي ډول له هېواده وتلي دي. د بېلګې په توګه، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنرۍ د ۲۰۲۱ کال له فبروري څخه د ۲۰۲۲ کال تر فبروري پورې په پاکستان کې له ۱۱۷ زره زیات نوي افغان کډوال ثبت کړي دي. د دغو کډوالو له ډلې ۳۵ زره یې یوازې په اګست میاشت کې تللي وو.[15] دا بهیر تر ډېره له پخوانیو بهیرونو سره توپیر لري، ځکه دا ځل تر ډېره علمي پاړکی او لوستي افغانان له هېواده وتلي دي.

اوسمهال تر ټولو ډېر کډوال په دوو ګاونډیو هېوادونو ایران او پاکستان کې دي. دریم هېواد چې اوس ډېر افغانان کډوال پکې مېشت دي، هغه ترکیه ده. ځینې شمېرې ښيي، چې په دغه هېواد کې اوسمهال له ۳۰۰ زره تر ۵۰۰ زره پورې افغان کډوال مېشت دي. که څه هم د ترکیې د حکومت مخالف ګوند چې د ترکیې پر حکومت د کډوالو په برخه کې نیوکې لري، د افغان کډوالو شمېره ۱،۵ میلیون تنه ښيي؛ خو ځینې سرچینې بیا د دغو دواړو شمېرو ترمنځ اټکل کوي چې په ترکیه اوسمهال شاوخوا ۸۰۰ زره افغان کډوال مېشت دي.[16] د دې ترڅنګ، نورو ګاونډیو هېوادونو لکه تاجکستان ته هم افغانان کډوال شوي، خو هلته یې شمېره کمه ده او له همدې کبله یې ستونزې هم کمې دي.

افغان کډوال په تېرو څو لسیزو کې د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو په ځانګړې توګه ګاونډیو هېوادونو کې تل له ګڼ شمېر جدي ستونزو او ننګونو سره لاس او ګرېوان پاتې شوي دي. له یوې خوا د کډوالۍ پر خطرناکو مسیرونو په ځانګړې توګه اورپا ته پر لاره د مرګ له ګواښونو سره مخ وو او دي، چې پر ناقانونه کډوالو د ایران او ترکیې د سرحدي ځواکونو د بریدونو په اړه د بښنې نړیوال سازمان وروستی راپور یې د بېلګې په توګه یادولی شي؛ له بلې خوا په ګاونډیو او نورو هېوادونو کې تل له خپلو انساني حقونو بې برخې او ان په ځینو وختونو کې له زړه بوږنوونکو شکنجو، بې محاکمې اوږدمهاله زندانونو، په نیابتي جګړو کې جبرا کارېدو، د مالي او کاري امنیت نشتون، د کډوالو په کمپونو کې د اوږدې مودې لپاره د بندیانو په څېر پاتې کېدل، اجباري ایستل کېدو او داسې نورو ګڼو ستونزو سره مخ دي.

په نورو هېوادونو کې له افغان کډوالو سره کېدونکې چلند او د هغوی ستونزې له دې ټکي ښې څرګندېدای شي، چې حتی قانوني سند لرونکي کډوال هم په دوامدار ډول د کوربه هېوادونو د

[15] European Union Agency for Asylum, “EUAA publishes report on Afghan refugees in Pakistan” May 2022. Available at: https://euaa.europa.eu/news-events/euaa-publishes-report-afghan-refugees-pakistan

[16] Azadi, “Fleeing Afghans Who Reach Turkey Get No Respite From Violence, Persecution” Sep 2022. Available at: https://gandhara.rferl.org/a/afghan-refugees-turkey-violence-persecution-taliban/32019218.html

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

پولیسو له ځورونو سره مخ وي. د بېلګې په توګه یوې څېړنې موندلې ده، چې په پاکستان کې له ۲۰۱۵ کال راهیسې هر کال سلګونه او زرګونه داسې کډوال د پاکستان د حکومت له لوري نیول کېږي چې د کډوالۍ اسناد (PoR کارتونه هم لري). د دا ډول نیونو شمېره په ځینو کلونو کې لوړه او په ځینو کلونو کې ټیټه وه، د بېلګې په توګه په ۲۰۱۷ کال کې ۳۷۴۴ دا ډول کډوال د پاکستان د حکومت له لوري نیول شوي وو.[17]

په یوه تازه مورد کې کابو یوه میاشت وړاندې د سپټمبر (۲۰۲۲م) په لومړیو کې په پاکستان کې د ښځو او ماشومانو په ګډون د سلګونه افغان کډوالو د نیول کېدو راپورونه خپاره شول. ځینو کډوالو له رسنیو سره په مرکو کې ویلي چې د کورنیو ځینې غړي له ډېرو میاشتو راهیسې د پاکستان د حکومت له لوري د قانوني اسنادو نه لرلو په تور نیول شوي او د نیول شوو کسانو کورنۍ په خراب وضعیت کې شپې ورځې تېروي.[18]

په ایران کې بیا څو میاشتې وړاندې د یوه افغان تبعه له لوري د دوو روحاني شخصیتونو له وژلو[19] وروسته د افغان کډوالو لپاره پراخې ستونزې رامنځته شوې او ګڼې داسې ویډیوګانې په ټولنیزو رسنیو خپرې شوې چې ښیي افغان کډوال په خورا بې رحمۍ سره شکنجه کېږي او ان د بدن غړي ترې پرې کېږي.[20]

په دې توګه د نورو بېلابېلو ستونزو ترڅنګ، د افغان کډوالو نیول، جبري اخراج، ځورونې او شکنجې هغه ستونزې دي چې په ملي او نړیواله کچه غبرګونونه له ځان سره لري او له کبله یې افغان کډوال په ناوړه وضعیت کې دي. که څه هم د افغان کډوالو د نیولو او جبري ایستلو چاره په تېرو کلونو کې هم روانه وه. د بېلګې په توګه د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري د معلوماتو له مخې، په ۲۰۱۵ کال کې تقریبا له ۳۶۰۰ څخه زیات افغان کډوال د پاکستاني پولیسو لخوا نیول شوي وو.[21] په ایران کې بیا د افغان کډوالو د نیولو چاره تل روانه وه او په ندرت سره کله نا

[17] European Union Agency for Asylum, "Pakistan-Situation of Afghan Refugees" May 2022. Page 40. Available at: https://euaa.europa.eu/sites/default/files/publications/2022-05/2022_05_EUAA_COI_Report_Pakistan_Situation_of_Afghan_refugees.pdf

[18] See Online: https://www.aninews.in/news/world/asia/taliban-in-talks-with-pakistan-over-release-of-300-detained-afghans20220911165429/

[19] New York Times. "Tensions Flare Between Neighbors After Afghan Man Kills Iranian Clerics" April 28, 2022. Available at: https://www.nytimes.com/2022/04/28/world/asia/afghanistan-iran-refugees-migrants.html

[20] See Online: https://gandhara.rferl.org/a/videos-show-mistreatment-afghan-refugees-iran/31793242.html

[21] UNHCR, Pakistan fact sheet December 2015, see it online:< http://unhcrpk.org/wp-content/uploads/2013/12/Pakistan-fact-sheet-December-2015.pdf>



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

کله درېدلې ده. تازه شمېرې ښيي چې لږ تر لږه ۱۳۵۰۰۰ زره افغان کډوال په تېرو شپږو میاشتو کې له ایران څخه جبرا ایستل شوي دي.[22]

## وړاندیزونه:

- لا هم په ګاونډیو هېوادونو کې ملیونونه راجستر او ناراجستر کډوال مېشت دي، چې وخت نا وخت له خورا زیاتو ستونزو سره مخ کېږي. په دې برخه کې د افغانستان او ګاونډیو هېوادونو د ملتونو غوښتنه دا ده چې د افغانستان د جګړه ځپلي وضعیت په پام کې نیولو سره له افغان کډوالو سره د ښه چلند تګلاره غوره کړي او د افغان کډوالو پر وړاندې شته ستونزې له منځه یوسي.
- له ګاونډیو هېوادونو څخه د افغان کډوالو اجباري ایستل یوه مهمه ستونزه ده، چې له کبله یې هم افغان حکومت تر فشار لاندې راځي او هم اخراج شوي کډوال له خورا زیاتو ستونزو او ناوړه وضعیت سره مخ کېږي. له دې کبله له ګاونډیو هېوادونو غوښتنه ده چې د افغانستان د وضعیت له درک کولو سره د اجباري ایستلو پروسه بنده کړي او پر ځای یې له افغان حکومت او افغان مهاجرینو سره په داسې توګه مرسته وکړي چې هغوی په خپله خوښه هېواد ته راستانه شي.
- که څه هم اوسمهال په افغانستان کې جګړه تر ډېره درېدلې او د کډوالو د راستنېدو یو لامل چې ناامنۍ وې تر ډېره له منځه تللی، خو په ورته وخت کې له اوږدو جګړو راوتلي افغانستان کې لا هم د کډوالو د راستنېدو لپاره خورا زیاتې ستونزې شته دي چې له جملې څخه یې د هېواد اقتصادي وضعیت یادولی شو. له دې کبله ګاونډیو هېوادونو ته پکار ده چې لا هم افغان کډوالو ته د ښې ګاونډیتوب د اصل له مخې حوصله او زغم وکړي.
- په ګاونډیو هېوادونو کې افغان کډوال باید د سیاسي فشارونو وسیله نه وي او د افغان کډوالو وضعیت د دوه اړخیزو اړیکو د خرابوالي له کبله خراب نه شي.
- په ګاونډیو هېوادونو کې د افغان کډوالو د غیرعادلانه محکمو، د ښوونې او روزنې او روغتیا خدماتو ته په لاسرسي کې شته ستونزو، د پولیسو له خوا ځورونو، د ویزو په برخه کې شته ستونزو، د افغان کډوالو شتمنیو او کاروبارونو ته شته ګواښونو او داسې نورو ستونزو مخنیوی وشي او حکومتونه په دغو برخو کې پر خپلو پالیسیو غور وکړي.

[22] Ahmad Sohaib Hsrat. "Iran forcibly expels over 135,000 Afghans in 6 months" Pajhwok Afghan News. 11 Sep 2022. Available at:
https://pajhwok.com/2022/09/11/iran-forcibly-expels-over-135000-afghans-in-6-months/

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

- ښکاري چې د ملګرو ملتونو د کډوالو اړوندې اداري د تېرو لسيزو په پرتله اوس د افغان کډوالو وضعيت ته هومره جدي پاملرنه نه کوي. له دې کبله په ځانګړې توګه د ملګرو ملتونو د کډوالو له عالي کميشنرۍ (UNHCR) او همدا راز د کډوالۍ نړيوال سازمان (IOM) څخه غوښتنه دا ده، چې په بېلابېلو هېوادونو کې د افغان کډوالو د حقونو په ملاتړ او ساتنه کې خپل رول زيات کړي او افغان کډوال وکړای شي د دغو ادارو تر ملاتړ لاندې خپلو قانوني حقونو ته لاسرسی ومومي.
- په ګاونډيو هېوادونو کې د افغان کډوالو مبهم راتلونکی بايد ختم او د کډوالو د راجستر کولو او هغوی ته د کډوالۍ د کارتونو ورکولو له لارې راتلونکی تضمين شي.
- يو شمېر افغانان د خپلو ناروغانو د تداوۍ له کبله نه شي راستنېدای، په ځانګړې توګه د هغو کډوالو د ځانګړي راجستر کولو لپاره دې اقدام وشي او پر وړاندې يې شته ستونزې هوارې شي.
- افغان حکومت ته پکار ده چې د کډوالو د راستنېدو اړوند روښانه پاليسي جوړه کړي او د کډوالو د نه راستنېدو پر وړاندې شته اوږدمهالو خنډونو د له منځه وړلو او د بيا مشتېدو د عملي پلان له جوړولو سره اقدام وکړي؛ ځکه په تېرو کلونو کې يو زيات شمېر کډوال له راستنېدو وروسته دلته د شته ستونزو له کبله بېرته کډوالۍ ته اړ شوي دي.
- د افغانستان او ګاونډيو هېوادونو ترمنځ د کډوالو د ستونزو هوارولو په برخه کې د همغږۍ او همکارۍ د زياتولو لپاره بايد ګډ کميسيونونه جوړ شي، ترڅو وخت نا وخت د کډوالو ستونزې هوارې کړي او د کډوالو اړوند ستونزو له سياسي کولو مخنيوی وشي.
- په افغانستان او ګاونډيو هېوادونو کې د يو او بل پر ضد د منفي تبليغاتو مخنيوی وشي ترڅو يې منفي اغېزې پر کډوالو له منځه ولاړې شي؛ ځکه په اوسنيو وختونو تر ډېره يوازې منفي اړخونو ته تبليغات کېږي او په نورو هېوادونو کې له کډوالو سره شوې همکارۍ نه يادېږي او يوازې د دواړو ملتونو ترمنځ د دښمنۍ اور ته لمن وهل کېږي.

پای

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بداينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +۹۳۷۸۶۰۰۹۶۹۹